# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد          بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم          از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com          www.afgazad.com

| تاریخي | Historical |
| --- | --- |



ډاکتر رحمت ربی ځیرکیار*

۰۶ فبروری ۲۰۱۶

## د جرګې په مخکې او د ټوپک تر شا:
## د جنرال یارمحمّد خان وزیری د کتاب لنډیز
۲


* د برلین د ازاد پوهنتون، د کابل پوهنتون، او په امریکه کې په دوه پوهنتونونو کې د سیاسي علومو پخوانی ښوونـد. ماستري او ډاکتري دواړه په سیاسي علومو کې د برلین په ازاد پوهنتون کې، او مافوق بکلوریا په سیاسي تعلیم او تربیه کې په کویتې پوهنتون کې – د فرانکفورت/ماین ښار


### (۷) د ګـومل، کـنـدر او ژوب ډګـر

د ګومل په سیمه کې انګریزانو له پخوا راهیسې پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. دلته خروټو،سلیمانخیلو او ځینو کوچیانو دخپلو میرنو مشرانو(ملک فتح خان سلیمانخیل، نواب خان سلیمانخیل، شیرجان خان خروټي، او نعمت خان خروټي) د کوماندې لاندې په خپله سیمه کې د انګریزانو مرکزونه د بریدونو لاندې ونیول او انګریزان یې په شا وتمبول. د اپوزې ښار په جګړه کې هم د ګومل غازیانو غټه ونډه لرله، اود خروټو غیرتي مشر نعمت خان خروټی په دغه جګړه کې شهید شو. د کندر په سیمه کې د فرنګي پوځونوپه مرکزونو باندې د بر یدونو چارې د اشکي په غونډه کې لیکوال جنرال ته سپارل شوې وې:« د فرنګیانو موجودیت زموږ د ولس نـر او ښځه مجاهدین ګرځولي وو، ښځو به هم ټوپک په اوږه ګرځول.» د کندر په سیمه کې انګریزانو نهه نظامي مرکزونه او چونې لرلې. غازیانو د حضرت حسین نیکه زیارت ته نږدې چونې ووهله او ۵۰۰ فرنګي او هندي پوځیان یې ووژل، او ورپسې یې د کندر ټوله سیمه د انګریزانو له حاکمیت نه خپلواکه کړه او هغوی یې ژوب پورې وځغلول. په ژوب کې هم فرنګیانو پاخه پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. دلته فرنګیانو ملیشه لښکر هم جوړ کړی و. په ژوب کې انګریزانو ۱۸ پوځي مرکزونه جوړ کړي وو. کله چې انګریزانو په وزیر ستان، ګومل او کندر کې ماتې وخوړه، نو ژوب ته وتښتیدل او د پوخ شمیر هلته ځلورچنده شو . په عین ډول، د غازیانو شمیر هم ځلورچنده شو ځکه چې ټولو د انګریزانو پوځ تر ژوب پورې وځغلاوه. د وزیرستان، ګومل او کندر د غازیانو په ملاتړ او د ژوب د مشرانو( سردار حسن خان کاکړ، سردار رحیم خان کاکړ، سردار شیرخان کاکړ، سردار قلاخان کاکړ، اختر محّمدخان مندوخیل، میجر صوبدار اجمیر

خان د اختر محّمد خان مندوخیل ځوی، او مشوخان مریانی د فرنګیانو میجر صوبدار) د کوماندې لاندی په انګریزانو باندې غوبل جوړشو اودا وخت غیرتي پښتنه ملیشا د اجمیرخان مندوخیل او مشوخان شیریاني[مریاني؟] په لارښودنه د فرنګي پوځ پریښود او د فرنګیانو په وړاندې د غازیانو سره غبرګه شوه. په انګریزانو باندې غازیانو په ګډه سره زمکه سره تبۍ وګرځوله. لـه دې امله انګریزانو د خپلو پوځونود خلاصون لپاره درې زره تنه پـوځ د بولان له درې نه د سلیزي د چوڼۍ او په اپوزه کې د محاصره شوو پوځیانو د نجات لپاره راولیږه. خو غازیانو پرې سم دلاسه برید وکړ، ماتې یې ورکړه او ټول وسایل یې ورنه ونیول. د انګریزانو له ۸۰ کچرو نه (چې له بولان درې نه یې پرې جنګي سامان راوړی و) درې کچرې وتښتیدلې او نورې ټولې د غازیانو په ولکه کې ورغلې. د سلیزي پوځي چوڼی غازیانو ونیوله. غازیانو اپوزه وسیځله او د ژوب نورې ټولۍ چوڼی او پوځي مرکزونه یې ونیول.

### (۸) «دریم ناولـي تـړون» د ټول افغانستان خپلواکي شنـډه کـړه

[دریم تړون (۸ اګست ۱۹۱۹) چې د افغانستان د داخله وزیر علي احمد خان لوی ناب او د برتانوي هند د بهرنیو چارو د سکرتر همیلټن ګرانټ په منځ کې رامنځته شوی و، لیکوال جنرال یې په لاندې دلیل کړولی دی :] د وزیرستان، کندر، ګومل او ژوب غـازیانو له فرنګي پوځونـو نـه، نـه یواځې هغه بـدل واخیست چې پـه ننګرهار اوکنـدهـار کې یې افـغان پـوځیانو تـه ماتې ورکړې وه، بلکې غلیم یې دیته اړکړ چې له امـان الله خان نـه د جنـګ د اور بنـد(مـتارکې) هـیله وکړي. انګریزان په دې پـوهـیدل چې کـه جګـړه دوام وکـړي، د وزیـرستان، ګـومل، کندر، او ژوب غـازیـان بـه پـه لـومـړي پړاو کې انګـریـزان له ډیـره غـازیخان، ډیره اسماعیل خان ، بنـو او کـوهاټ نه وشـړي، او وریـسي به د پنجاب او ملـتان د غـازیانـو ملاتـړ وکـړي.

د ډیورنـډ د رټلي تـوافقنامې(۱۸۹۳زییز) راهیسې په وزیرستان، کندر، ګومل او ژوب کې له ۵۵ نه زیات برتانـوي پوځي مرکزونه او چـوڼی جوړ شوي وو. له ۱۹۱۴ نه تر ۱۹۱۸ پورې انګـریزي او اجیرهندي پوځونه په لومړۍ نړۍ واله جګړه کې نښتي وو.که امیر حبیب الله خان (۱۹۰۱-۱۹۱۹) د لومړي نـړیوال جنګ په مهال د افغانستان د خپلواکۍ لپاره جنګ اعلان کړی وای، دا به ډیره اغیزمنه وای چې د «سرحد» پښتنو (په تیره د وزیرستان، کندر، ګومل او ژوب ولسونو) په لومړۍ نړیواله جګړه کې په ښکیل شووانګـریزانو په برتانوي هند کې له هرې خوا بریدونه کړي وای او په اسانۍ سره یې د ټول افغانستان خپلواکي ګټلې وای! د خپلواکۍ په جګړه کې چې لـږودیر دوه اونۍ دوام یې وکړ، «**زموږ د سیمو تقریبا دوه زره» غـازیان شهیدان شول**. خو «د خپلواکۍ د جګړې نه وروسته زموږ برخه لیک بیا هغه برخه لیک شو چې د اعلیحضرت امان الله خان د نیکه او د فرنګیانو د استازي ډیورنډ په ناولي تړون کې ټاکل شوی و او[موږ] یو ځل بیا د رودونـو وینو تویـولو نـه وروسته د ښمنانو ته لاسترلي وسپارل شو.» زموږ پښتنو غازیانو به د خپلو سوبو(فتحو) او د غلیم د ماتې خبرونه ټول محّمدنادرخان او شاه ولیخان ته لیږل چې امان الله خان پـرې خبرکړي. خو داچې د غـازیانو د بریالیتوبونو خبرونه بـه دغو دوه ورونـو پـه کـومه «اندازه اوبڼه» امان الله خان ته رسولي وي، غازیان پرې نه پوهیږي(مخونه ۹۸-۱۰۰). په داسې حال کې چې د وزیرسـتان، کـندر، ګـومل اوژوب غـازیان د جګـړې په ډګر کې بـرلاسي وو او انګـریزان ځغـاستې او ماتې ته اړکـړل شوي وو، **غازیان اریان وو چې ولې به امـان الله خان د مغلـوب غلیم سـره د اوربـنـد وړانـد یز مـنلی وي؟!** د اوربند پیشنهاد «**بې له دې چې زموږ مشرانو سره یکې سلا او مشوره وکړي» ومنل شو.** د ۱۲۹۸لمـریز(۱۹۱۹ زییـز)د خپـلواکۍ په غـزا کې «زموږ سیمې بیا د متارکې په پـریکړو کې د افغاني او فـرنګي هیئتونو له خوا په فـرنګیانو پورې وتـړل شـوې او **زمـوږمجاهـدینـو له نظره دا دریم نـاولی**

**تــړون و.»** فرنګيان د تودې جګړې په مورچل کې «زموږ له لاسه مغلوب شوي وو، او دې لره تيار وو چې د غالب قــوت تړــول شرايط په ځان ومني.... نو که هغه وخت د افغانستان د حکومت نماينده ګانو [علي احمد خان لوی ناب] په فرنګيانو باندې د زړه له کومې سياسي زور اچولی وای، د افغانستان د پــولــو ننګــيالي افغانان به هم **پوره خپلواکۍ ته رسيدلي وای.**»(۱۰۲-۱۰۵ مخونه). له دغه «نــاولي تــړون» نــه وروسته، انګريزانو ليکوال جنرال او د هغه سره د خپلواکۍ د جګړې نور ملګري د درنــوبمباريو، تــاوانــونو او زجــرونو سره مخامخ کړل، او له دې امله امان الله خان د هــغوي **کورنيو ته** د پخواني لوی کندهار ولايت په شاجوی کې پناه او زمکه ورکــړه

[ جرمن- امريکايي تاريخ پوه اداميک کاږي چې امان الله خان د افغانستان او انګريز په دريمه جګړه (۱۹۱۹) کې اساساً د سرحد د پښتنو په مټ بريالی شو]- ځيرکيار

Amanullah “had been successful in the Third Anglo-Afghan War [1919] primarily because of the assistance he received from Afghan tribes in the ‘Independent Tribal Belt’ of the Frontier[Pashtunkhwa]…. and once the war had been ended the government of India considered the time ripe to punish the tribes for their assistance to Afghanistan and to consolidate its hold over the Frontier [Pashtunkhwa]…. In December of 1922 and January 1923, Indian troops moved against the Masuds resorting, in the words of the viceroy, to ‘air operations on a large scale previously unknown on the frontier’.” (Adamec).

روسي تاريخ پوه پوهاند يوري تيخونوف هم په خپل کتاب کې کاږي چې د وزيرستان ۵۵۰۰ جنګياليو د ۱۹۱۹ د نومبر پورې انګريزي قواوې له دينه محرومي وساتلې چې يرغل پرې وکړي. انګريزانو په خپلو ۶۲۰۰۰ وسله والو قواو سره چې په ۵۲ الوتکو سمبال وې د ۱۹۱۹ د نومبر په ۱۷ په شمالي وزيرستان خپل بريد پيل کړ او د توچي درې سهيلي برخې يې ونيولې او«تقريباً هم مهال» يې د سهلي وزيرستان مر کز(وانـه) د ۱۹۲۰ په دسمبر کې ونيو. ولـولـئ

Yuri Tikhonov, Politics of Great Game in Afghanistan and Pukhtun Tribes, 1919-1945(2007?).

يوری تيخونوف په لاندې دوه چينو حواله ورکړې ده

Watteville H. Waziristan 1919-1920: Campaigns and Their Lessons, 1925; and Miller C. Khyber: British Indians North-West FrontierNew York, 1977.

ولسي جنرال يارمحّمد خان وزيري د امان الله خان سره دوه ځلې ليدلي وو: يو ځل يې ورسره په کابل کې ليدنه شوې وه او بل ځل يې په شاه جوی کې کله چې د يــورپ له سفرنه راستون شوی و[شاه جوی له ۱۹۶۳ راهيسې د زابل ولايت يوه ولسوالي ده چې دغزني او کندهار په منځ کې پرته ده او شينکی، قلات او ارغنداب ولســوالی ور ســره ګــډې پـولې لري]. خو دغــه زړه سوانــدی او ترقي غــوښتــونکی بــاچــا «دخــودغرضــه» مشاورينو او درباريانو د «چاپلوسی او غوړمالی» په دام کې نښتې و. د هغوی د مــشورو له امــله امان الله خان په «لويه تيروتنه» کې ښکيل شو او هغه دا چې «دښمن[انګريزانو] ته يې په خپله خاوره کې د ژوند کولو زمينه برابره کړه.» دغه تريخ واقعيت انګريزانو ته د دې موقع ور په لاس کړه چې د امان الله واکمني رانسکوره کړي: فرنګيانو د دغې موخې لپاره په ۱۳۰۳لمريز (۱۹۲۴مارچ) کې په سهيلي افغانستان (پخوانۍ پکتيا) کې د ملا عبدالله ګرديزي او ملا عبدالرشيد

«په لاس قیام او اغتشاش پیل کړ، سردار عبدالکریم [له یوې غلامې جینۍ نه له ۱۸۸۰ راهیسي په هند کې د اوسیدونکي امیر/سردار یعقوب خان ځوی] یې ورته له هند نه راولیږه....فرنګیانو د مسلح قیام په څنګ کې د یوشمیر علماء و اومشایخو او روحانیونو په ژبه په اعلیحضرت امان الله خان باندې د قادیـاني او کـفر تـور ولګـاوه» او د هغه خپل درباریان یې « داغتشاش کوونکو سـره وتړل [غبرګ کړل] او د درباریانو» له لارې یې «استقلال طلب پاچا ته د ګـور کیـندل» پیـل کـړل. ولولئ ۱۲۱ تـر ۱۲۴ مخونـه

[ د افغانستان د چارو مؤرخ لودویګ ادامیک چې الماني او برتانوي ارشیفونه یې لټولي دي، په احتیاط سره لیکي چې په برتانوي ارشیفي چینو کې یې کوم داسې ثبوت ونشو میندلی چې د عبدالکریم د ارمان سره دې د برتانوي هند د حکومت ملاتړ وشئ. ادامیک په بُن/جرمني کې د بهرنیو چارو د وزارت د اسنادو له مخې کاږي چې امان الله خان نیـول شوو باغیانو ته د ۱۹۲۵ په می کې، وړاندې له جزا ورکولو نه لاندې وینا اورولې وه]

«تاسې ربښتوني افغانان نه یاستئ. زه متأسف یم چې تاسې خپلو اتباعو او اولاد ته کلکه جـزا در کـوم. خـو تاسې نور زما اولاد نــه یاستئ ځکــه چې زما په ضد راپاځیدلي یاستئ. تاسې زما په اعمالو نیوکه کړې ده: ما ښوونځي جوړ کړي دي. تاسي فکر کوئ چې دا به مې د ځان لپاره کړي وي؟ دا ما یواځې ستاسې د اولاد لپار کړی دي. تاسې غوښتنه کړې ده چې زه باید د جینکو لپاره نوي ښوونځي وتړم. همدا اوس ماته له ټولې نړۍ نه عالمانو لیکلي دي چې د جینکو لپاره ښوونځي جوړول روغ کـار دی. ما د اوبـو رسولو پـروژې جوړې کړې دي. ما داهم د ځان لپاره نه دي کـړي، بلکې ستاسې او ستاسې د اولاد لپاره. تاسې ویلي چې زه قـادیانی یم [ په هند کې د احمدیه ډلې غـړی]. دا دروغ دي، زه قــادیانی نه یم. تاسې ویـلي چې زما نوي قـوانین د قرآن سره ټکر لري. ما ستاسې نه هیله کړې چې ماته راشئ او په دې اکله زما سره بحث وکـړئ. تاسې دغسې نه دي کړي. د دې پــه ځـای، تاسې د ماجــرا غوښتونکي عبدالکریم شا ته ودریدلئ، زما په ضد راپــورته شـوئ، او زما د ډیر شمیـر زړه ورو عسکرو د وژنې سبب شوئ. له دې امله زه تاسې نـشـم بخښلی. ځکه خـو بایـد تاسې ومـرئ.». امان الله خان د ۵۳ بندیانو د وژنې امر ورکړ او پاتې نور و ته یې په بیلابیلو ولایتونو کې سخت کارونه وروسپارل.

[ زه ځیرکیار په دې آند یم چې امان الله خان هیواد دوست پاچا و او د خـپل هیواد د پـرمختګ او د خـپل ملت د سوکالۍ لپاره یې روغه اراده لرله. امان الله خان چې د قدرت واګې په لاس کې ونیولې، ۲۷ کلن ځوان و او ډیرې هیلې یې لرې. خو له بدې مرغې، د هغه مهال د افغانستان په ذهـنـي شرایطو هـغومره نـه پوهیده لکه څومره چې لازم وو. یواځینۍ اتکا یې په یوه کوچنۍ ډله (ځوان افغانانو)، محمود طرزي، او یو څـو ښاري روڼ اندو لرله. امان الله خان نه د دې وس لاره چې قوي دولت جـوړ کړي او نه یـې د دې وس لاره چې په قـوي دولت کې قـوي عسکـري رامنځته کړي. دغه شان، د افغانستان غښ غلیم ګاونـډي برتانوي هند و چې د افغانستان د سر ټیټۍ لپاره په دنیوي او شیطاني وسیلو سمبال و ، د دغـو ظرفیتونو په استعمال کې یې مهارت لاره، او له تش لاس نه یې شیطاني کـوترې الوځولی شوې. هغه څه چې باچا امان الله خان پکې ناکام شوی و، لومړي وزیـر سردارمحّمد داوود خان( ۱۹۵۳-۱۹۶۳) پکې بریالی شو ځکه چې غښتلی دولت اوغښتلي عسکري یې رامنځـته کـړل او د سرحـدي پښتنو او بلـوڅو د مشرانو سره یې ټول تال کلکې اړیکې پاللـې وې. محّمد داوود خان(۱۹۰۹-۱۹۷۸) په فرانس کې زده کړې کړې وې او هلته سفیر و. دی د هغه مهال د مشــرقي او کنــدهار ولایـتونــو والي و، د دفاع او داخلي چارو وزیر و، د جنرالۍ مقام ته ورسید او د کابل د مـرکزي قـواو کوماندان شو(۱۹۵۱-۱۹۵۳). دغـو درنو وظیفـو سردار محّمد داوودخان په افغانستان کې د مشرتابه لپاره پوخ کړی و ]- ځیرکیار

## (۹) دغـلواکی پـه ضد جګړه په کلات کې پیل شوه

[امان الله خــان د ۱۹۲۹ د جنــورۍ په ۱۴ قدرت خپل مشــر وررور عنایت الله ته پرېښود او پخپله کـندهار ته لاړ. له دینه نــږدې درې او نـی ورانـدې، د امان الله خان د کورنـی غـړې کـندهار ته تلـلي وو. عنایت الله د ۱۹۲۹ د جنورۍ په ۱۷ له قدرت نه لاس واخیست، او یوه ورځ وروسته بچه سقاو ارګ ته ورننوت(ادامیک)]. خو د اوسنې زابل ولایت د شاهجوی ولسوا لۍ اوسیدونکـو ( چې لـه وزیــرســتان او مـریــانۍ نه راغـلي وو) د سقاو سره د بیعت پــه ځای د نــومــوړي پــه ضــد پـــه پــاڅون لاس پــوري کــړ.

د جنرال یارمحّمد خان وزیري په مشرۍ د ۱۳۰۸ هجري زییز د وري د میاشي په ۴ نیټه[۲۴ مارچ ۱۹۲۹]، ۱۵۰ تنه وزیري او مــریانی کوچـیان د کلات په لور( چې د شاه جوی په جنوب-غرب کې د زابل ولایت ولســوالــي ده) وخوځـیدل، خو یــو شمیر ســري یې د سقــاویانو په مقابل کې د خپلو کورونو د ساتنې لپاره پرېښودل. دغه کوچنی خو د خپلواکی په جنګې تجربه کې پوخ شوی ۱۵۰ کسیز غونډ د کلات «سر اسـپ» نومي ځای ته ورسید. مخکې له دې چې سقاویان د کلات پوځي کنډک ونیسي، د لیکوال د کوماندې لاندې پرې ناڅاپي غلچکي برید وشو. نږدې دوه زره سقاویان تس و نس شول، وتښتیدل او مالي او ځاني تاوانونه ورواوښتل. د دغه بري خبر امان الله خان ته ورسید چې د یو شمیر لوړ پــوړو مامــورانــو ( عــبدالاحدخان مایار/وردګ داخـلـه وزیـر، محّمد یعـقـوب خــان د دربــار وزیر، عــبدالعـزیزخان د دفاع وزیر او معــین السلطنه) ســره یې په کندهار کې یې اړولي وو. د سقــاویانو له کلکې ماتې نه ۵ ورځې وروستــه، د امان الله خا ن له خوا داخله وزیر عبدالاحد خان مــایــار د ۱۳۰۸ لمریــز د وري په ۱۲[۱اپریل ۱۹۲۹]، د شپــې په اووه بجو د دوو موټرو په پوځي بدرګه سره شاه جــوی ته ورغی او هلته یې د جنرال وزیري په میلمستون کې واړول. د ماخــوستن لــه ډوډۍ نــه وروستـه ورتـه داخـلـه وزیــر مــایــارداسي وویل:« د اعلیحضرت امان الله د سلطنت ستنــې زمــوږخپلوملګرو او د اعلیحضرت د کورنی خپلو غړو ولړزولې.... په اینده کې هم چې څه واقع کیږي نو زموږ له لاســه به وي. دا ګینـته هم زموږ په کندهاري لښکر کې د دراني سردارانو او خانـانو اختلافات او بې اتـفاقي روانه ده.» وزیر مایار حاضرینوته د خپل راتګ هدف څرګند کړ او شخصا جنرال وزیري تـه یې یــو فـرمان تسلیم کــړ چې امان الله خان لاسلـیک کــړی و. دغـه شان مایار ورته د امان الله خان ۱۲تر۱۴ نور لیکلي فـرمانونه هم وروسپارل چې وزیرستان او جنوبي ولایـت(پـکتیا) د مشرانـو په نوم لیکل شوي او د امان الله خان له خوا لاسلیک شوي وو. د کابل مشایخو له غزني نه تر کلات پورې د میشتو قومونو مشران دېته را پارول چې امان الله خان له کندهار نه وباسي او د واکمنی لپاره یې هـڅه شنډه کړي. حبیب الله کلکانی په دې هـڅه کې و چې کـه پـه کـندهـار بانـدې لـه خپـل بـرید نه وړانـدې، په شاه جوی کې اوسیدونکي وزیـریان د امان الله خان له ملاتړ نه «بیل» کړي او د ځان پلویان یې وګرځوي. د دغه هدف لپاره «د شمالي اغتشاش پلویانو» د تره کې، سلیمانخیلو او اندړ قومونو د خانانو او مشرانو( امیـن الله خان تره کي، عبد المجید خان تره کي،عبدالـرشید خان تـره کي، محّـمد خان تـره کي[ چې وروسته د بچه سقاو جنرال شوی و]، عبدالقادر خان اندړ، حاجي ادم خان محمد خیل سلیمانخیل، پاچاخان شه خیل سلیمانخیل، او محمد عمر خان علـی زی سلیمانخیل) جرګه د شاه جوی وزیریانو ته واستوله چې له دوی نه د حبیب الله کلکاني لپاره «بیعت واخلي.» د شاه جوی وزیریانو ورته په ډاګه کړه: تر څو چې امان الله خان په افغانستان کې وي، « ترهغه به زموږ یو فرد هم د سقاوزوی حبیب الله ته د بیعت او همکارۍ لاس ورنکړي.» د شاه جوی د وزیـریانو «غـوځ» دریځ د سقوي هیئت غړي «ناامیده» کړل. د مخه ښې په مهال، محّمد خان تره کي داسې غبرګون وښود: «مریانۍ یار محّمد خانه! ان شاءالله چې ډېر ژر بـه یـو ځل بیا همدلته سره وګورو.» دا چې سقوي هیئت تش لاس ستون شو، د ۱۳۰۷ لمریزد کب/ حوت په ۲۸ نیټه(۱۹مارچ ۱۹۲۹) د

سقوځوی د پلویانو یوغونډ د دوه توپونو او ماشیندارو سره د شاه جوی د وزیریانو د ویرولو لپاره د کابل- کندهار د لوی لارې په غاړه په قلاخیلو کې چې سلیمانخیل پکې استوګن وو، مورچل وواهه. د عبدالحکیم خان تره کي، احمد خان علی خیل، او سید احمد توخي په مشرئ بیا جرګه د لاندې شرایطو سره د وزیریانو سیمې ته ورغله:(۱) د امان الله خان د پلویتوب په ځای به، د حبیب الله کلکاني سره بیعت کوي او د سقوي لښکر سره به وسله وال ملاتړ کوي. (۲) خو که وزیریان لومړی شرط نه مني، نو باید چې خپلې وسلې د جګړې د پای پورې سقویانو ته وروسپاري.(۳) که لومړي او دوهم شرط نه مني، نو باید چې لس تنه جنګي ځوانان د یرغمل (برمتې) په ډول سقویانو ته وسپاري. (۴) خو که پورتني درې شرطونه نه مني، نو باید چې ځانونه جګړې ته چمتو کړي.۱۳۰ تر ۱۳۴ مخونه. داخله وزیر عبد الاحد خان مایار/وردګ جنرال وزیري ته وویل چې د امان الله خان په استازولئ دې دغه فرمانونه د وزیرستان او پکتیا مشرانو تـه ورسـوي او د سقاو د مقابلې لپاره دې ځانونه غزني ته راورسوي. عبد الاحد خان مایــار «دهـم هغه شــپې په یولسو بجــو» د شاه جــوی له خلکو نه د کلات په لــور رخصت شــو.

لاندې انګریزي رسمي لاسوند(سند) د امان الله خان لپاره د جنرال یار محّمد خان وزیري ماموریت څـرګـندوي . نور ملونه د کتاب په پای کې خوندي شوي دي

No. 439-S

Copy to the Secretary of the Chief Commissioner, North-West Frontier Province, Peshawar, for information.

---

COPY OF MEMORANDUM No. 107-S., DATED THE 20TH APRIL 1929 FROM THE POLITICAL AGENT, SOUTH WAZIRISTAN, TO THE RESIDENT IN WAZIRISTAN.

*Reaction from Afghan reforms agitation in Waziristan.*

In continuation of my telegram No. 171, dated the 17th April 1929

I send herewith translations of the various letters addressed by Mirza Yar Mouhammad, Mirani, an Afghan official from Shahjui to Musa Khan, Abdullai, and Mahsud and Wazir maliks.

The facts of the case appear briefly to be as follows:

Ex-King Amanullah on his arrival at Shahjui is said to have publicly called for a volunteer to carry farmans to the Wana Wazirs and Mahsud maliks, the maliks of Khost and Urgun areas and the maliks of the Saifali, Mangal and Marani (Sherani) tribes as well as to the son of Babrak. The person undertaking the mission was promised a Wazirship.

By public acclamation Mirza Yar Muhammad (Marani), a petty Afghan official, was selected. The latter was entrusted with the farmans and set out alone in the guise of a fakir. He reached Manzai Obe, west of Khwaja Funga in British limits on the 15th instant and departed for Birmal on the 16th instant.

He entrusted certain letters* written by himself to one Gul Ajam Kaka Khel Zili Khel, for delivery. The latter , who is a relation of Malik Qayum, a petty Maka Khel malik, brought the same to the Political Tehsildar, Sarwekai, requesting their return after perusal.

The Mirza announced that on his return from Birmal he expected to find the requisite lashkar collected and that he would then show all concerned Amanullah's farman.

He impressed on Ajam Gul and his audience the necessity for baste in delivery of the Mission and for the seedy collection of the lashkar.

Reading between the lines it would appear that Amanullah has little faith in his 50,000 lashkar and that he is in dire straits for reinforcements of reliable material. His halt at Ghazni with such a stupendous army in hand is otherwise unaccountable, unless the numerical strength is a fictional paper one.

There seems no reason to doubt the truth of the story and certainly the Mirza's letters appear genuine.___________________________________

*)Translation of which are above referred to.

ولولی په انګریزي ژبه کې د کتاب په پای کې د ډاکتر ببریګل وزیر ۳ ملونه چې له بریټیش لایبرېري (برتانوي کتابتون) نه یې لاسته راوړي وو

### (۱۰) بې جبه خانې او بې خزانې غونډ مشر

یارمحّمد خان وزیری چې هغه مهال غونډمشر و، د امان الله خان په غوښتنه د وزیرستان په لور پیاده ځانله وخوځید(۱۵ حمل ۱۳۰۸لمریز) [۴ اپریل ۱۹۲۹]. د امان الله خان فرمانونه یې خزانه وه، او د وزیرستان په خلکو کې د غونډ مشر وزیري نږدې او کلکه پیژندګلوي یې جبه خانه وه. هغه ۷ ورځې وروسته(د حمل په ۲۲، ۱۳۰۸) [۱۱ اپریل ۱۹۰۸]«خپل قدم د وزیرستان په خاوره کې کښیښود» او د «غړوبه» نومې کلي نومیالي شیرمحّمد خان خوجلخیل وزیر میلمستون ته د ماښام په تیاره کې ورننوت او د ماخوستن له لمانځه وروسته یې د کلي د مشرانو سره هم په میلمستون کې په موضوع خبرې وکړې او هغوی ورسره خپل ملاتړ وښود. د سهر له لمانځه نه وروسته(۲۳ وری ۱۳۰۸ لمریز[۱۲ اپریل ۱۹۲۹] لیکوال جنرال یارمحمد خان وزیری د «یوې ډلې» وزیرو سره د سهیلي وزیرستان د مرکز وانه په لور وخوځید. همغه ورځ د وانه په سیمه کې بومیخیل نومې کلي ته ورسیدل او د محّمد خان زلیخیل په میلمستون کې یې واړول- مخونه: ۱۳۷ تر ۱۴۶؛ ۱۴۸ تر ۱۷۱. د ماخوستن له لمانځه نه وروسته، ټول مشران میلمستون ته راغلل او جنرال وزیري ورته د امان الله خان پیغام واوراوه. دولس مشرانو ته یې پیغامونه ولیکل چې سهار وختي یې د ځوانانو په لاس هغوی ته ورسوي.



**پاس سند د وزیرستان د مشرانو له خوا د جنرال یار محّمد خان وزیری کومانده او مشری تصدیقوی**

مشرانو ته په پیغامونو کې یې هر ولسي مشر ته په ګــوتــه کړه چې د راتلونکي جمعې په ورځ به د خوجلخیلو په غټ جومات کې «جرګه کــوو». سهار(۲۴ حمــل ۱۳۰۸[۱۳ اپریل ۱۹۲۹] جنرال وزیری او یــو څو تنــه مشــران د بــوداشـــوي احمــدزي وزیــر ملا هــمزالله اخونــد د لــیـدني لـــاره د شکي په لــوري وخوځــیدل (شکه/شکی د سهــیلي وزیرستان د مرکــز وانــه پــه شمــل کي او د رزمک او مکیــن په جــنوب غرب کې پــرته ده). په وانــه کي د خوجلخیــلو غټ جومات مرکــزي مقام لاره. په تن کمزوري همــزالله اخونــد هم پــه دغــه غټه جــرګه کې ګــډون لاره چې د وزیرو او مسیدو مشران پکي د پریکړې لپاره راغونډ شوي وو. د مولوي عتیداګل خان له خطبي نه وروستــه، لیکوال په خپله وینا کي د افغانستان او امان الله خان په وضعه رڼا واچوله او د امان الله خان پیغام یې حاضرینو ته ورساوه. ورپسې ننګیالي مجاهد انګور خان وویل چې: «موږ بې له افغانستان نه او افغانستان بې له موږ نه ژوندي نه شي پاتی کیدلی.» د مسیدو په استازیــتوب ملا فضل الــدین اخوند (مشهور په شهزاده) وویل چې زرترزره جنګیالي راټــول کړو او د جنرال یار محّمد حان وزیري کومانــدې ته یــې وروسپارو. لــوي مجاهد ملا همزالله احمدزي اخــوند جرګې ته نهــه لاربــــوونکي او ګټور اصول ور په ګوته کړل. په نــهم اصل کې یې وویل چې هــره چــاره بایــد په «ســلا او مشــوره وي». هغه زیاته کړه چې یارمحّمد خان وزیری دی چې [ په ۱۹۱۹ کې د خپلــواکی پــه جګــړه کې ] د حا جي صاحب ملا عــبدالــزاق خان اخونــد د مجاهدیــنو غــونډ مشر و، «اوس دې د هــمدې لښکر جرنیل[جنرال] وي.»( ۱۸۱ تر ۱۸۴مخونه). دغه وړاندیز د ټولو مشرانو له خوا ومنل

شو. د خوجل خیلو د جامع جومات په غټه جرګه کې ۵۷ مشرانو ګډون کړی و: یو پکي فرقه مشر و، ۱۳ پکي غونډمشران وو، شپږ پکي کنډک مشران وو او یو پکي جنرال و. د ګډون کوونکو قومي نومونه په دې ډول وو: اتمانزي وزیر، احمدزي وزیر، زلیخیل اتمانزي وزیر، خوجلخیل وزیر، مداخیل وزیر، او مسید.

## (۱۱)انګریزان باید غافل وساتل شي

لیکوال جنرال یار محّمد خان وزیری بومی ته لاړ. هلته د خانجانخان ککه خیل په میلمستون کې پټ شو او دا اوزه یې ګډه کړه چې وزیرو او مسیدو د ده پلا ن ردکړی دی او له دې امله افغانستان ته ستون شوی دی. په دې ډول یې انګریزان غافل وساتل. د وري (حمل) په دیرشمه نیټه[۱۹اپریل ۱۹۲۹] د څو تنو سره «د خیرې او جامو په تغییر» د وانه مرکز په لور ي وخوځید. د مشرانو د پریکړې له مخي بایـد لښکر د ۱۳۰۸ لمریز د ثور په لـومړئ نیټه [۲۱ اپریل ۱۹۲۹] په وانه کې راغونډ شي او له هغه ځایه دې د غزني په لوري وخوځیږي. هلته یې د خوجل خیلوپه جومات کې واړول او ملګري یې نورو ځایونو ته ولیږل. د انګریزانو هڅې چې د وزیرو او مسیدو لښکر د «قادیاني» شوي امان الله خان له ملاتړ نه وګرځوي، نتیجه ورنګړه، او نړدې شپږ زره تنه وسله وال لښکرد ۱۳۰۸لمریز د ثور په لومړئ نیټه[ ۲۱ اپریل ۱۹۲۹] د افغانستان په لوري په «ډولونو او اتڼ» وخوځید. وروسته له اتڼ نه ورته ملا فضل الدین مشهور په شهزاده یوه کوټلي او هڅوونکي وینا وکړه: «هغه ننګیالي مشران چې زما د مرحوم پلار ، اګا (ملا همزالله اخوند) او رئیس المجاهدین (حاجي ملا عبدالرزاق خان اندړ) تر څنګ جنګیدل، د افغانستان په تلو کې ستاسو په اوږه ولاړ دي». لښکر ته یې دوه مهمي سپارښتني وکړې: یو دا چې د امان الله خان پلویانو ته بـه په «دې عظیم خدمت کې ونډه ورکوئ»، او بل داچې «هڅه به کوئ چې مخالفین د ...جرګي لـه لارې په خپله خوا کې ودروئ». وروسته انګورخان، دلبازخان، زنګي خان او هفتي خـان هـر یـو پـه عسکري لحاظ پـه درې مهمو ټکو ټینګار وکړ:(۱) د هر قوم مشر د همغه قوم کوماندان ټاکل شوی دی؛ (۲) «مـوږ غایب او حاضر مشرانو» جنرال یارمحّمد خان وزیری د وزیرو او مسیدو د «ټولو لښکرو جرنیل[ جنرال]» ټاکلی دی؛ او (۳) د کابل «تر نیـولو پورې[بـه]د ده ترقیادت لاندې روان یـو»،۱۸۸ تر۱۹۶مخـونه نوربیا